UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتيژيکو اړيکو او وياند دفتر، کابل، افغانستان
مطبوعاتی بيانيه
http://unama.unmissions.org

**د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشی د ځانګړي استازي ستفان دی ميستورا اعلاميه**

د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر ۲۳ نيټه: په افغانستان کې ملګري ملتونه په کلکه سره د هغي حملی غندنه کوي چې نن ورځ د سهار مهال په ۱۱ بجو او ۵۸ دقيقو د افغانستان په لويديز کې د ملګرو ملتونو د عملياتو په مرکز باندي په هرات کې تر سره شوه. دغه بريد د ملګرو ملتونو فعاليتونه نه دي ګډوډ کړي او د ملګرو ملتونو د پرسونل څخه څوک په کې ټپی شوي نه دی.

ملګري ملتونه په افغانستان کې د دي لپاره دي څو د سولي د راوستلو په هلوځلو کې ملاتړ ولري، د افغانستان د خلکو سره د بيړنيو بشردوستانه مرستو د لاري مرسته وکړي او د اوږد مهالې پرمختيا کمک ولري څو چې په دي توګه د افغانستان د وګړو په ژوند کې ښه والي راشي.

مونږ د نړيوالو امنيتی محافظينو چې په داخل کې دي د زړه ورتوب او شجاعت ستاينه او مننه کوو چې په پيل کې يې دغه بريد ته ځواب ورکړی دی. د ټولو هغو کسانو په استازيتوب چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو په چوکاټ کې خدمت کوي مونږ د افغانستان د ملی پوليسو، د افغانستان د امنيتی ځواکونو او دولتی چارواکو او همدارنګه د نړيوالو سوله ساتو ځواکونو د هغي مرستې څخه مننه کوو چې د ملګرو ملتونو د پرسونل د محافظت په برخه کې يې تر سره کړي او دغه بريد يې شنډ کړي دی.

زمونږ اندېښنی لږ تر لږه د هغو دوو افغانانو امنيتی افسرانو د کورنيو سره شريکې دي چې د دغه بريد په ترڅ کې ټپيان شوي دي. ملګري ملتونه به په هرات کې خپل حضور او پروګرام ته د اړوندو وګړو د ښيګڼې لپاره دوام ورکړي او په دي لړ کې به د افغانی چارواکو ملاتړ وکړي.

Strategic Communication and Spokespersons Unit
United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA)
Kabul, Afghanistan Tel: 079 000 6121; +39 083 124 6121

http://unama.unmissions.org
Subscribe online to ensure you receive news from UNAMA.